جمهـــــوری اسلامــــی افغــــــانستان
دار الانشای کمیسیون مستقل انتخــــابات

دافغانستـــــان اسلامـــــی جمهوریت
د ټـــــاکنو خپلواک کمیسیون دار الانشاء

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission Secretariat

# مطبوعاتي اعلاميه

## ۱۵حمل۱۳۹۶

## ټاکنيز بهير کې د ټکنالوژۍ د کاروني د امکاناتو مطالعاتي ټيم کار پيل کړ

د ټاکنو خپلواک کميسيون تېرو تجربو ته په پام سره، د نورو اصلاحاتو تر څنګ په ټاکنيز بهير کې د ټکنالوژۍ کارونه د ټاکنيزو ننګونو د هواري مناسب لار ګڼي. په همدې اساس، د ټاکنو خپلواک کميسيون "د ولسي جرګې او ولسوالي شوراګانو په ټاکنو کې د ټکنالوژۍ د کاروني د امکاناتو د مطالعې" طرحه تياره او د حکومت له مشرتابه سره يې شريکه کړې چې د تېرو ټاکنو ننګوني، د ټکنالوژۍ د کاروني ګټې او زيانونه او د ټکنالوژۍ د کاروني د څرنګوالي باره کې د کميسيون وړانديزونه په کې تشريح شوي دي. له دې امله چې ټاکنو کې د ټکنالوژۍ کارونه يو نوی بحث دی، کميسيون، بين المللي ټولنه او حکومت باور لري چې د دغه بهير تر تطبيق وړاندې د کارپوهانو يو ملي او بين المللي ټيم د ټکنالوژۍ د کاروني څرنګوالی مستقلانه مطالعه کړي چې په رڼا کې يې بهترې پرېکړې وکړی وشي.

د همدې غرض له پاره، د کميسيون په مشرۍ يو تخنيکي ټيم جوړ شوی چې د ټاکنيزو شکايتونو د مرکزي کميسيون، د ماليې د وزارت، د مخابراتو د وزارت، د برېښنايي تذکرو د وېش د رياست او د ملی تدارکاتو د کميټې استازي په کې له بين المللي همکارانو سره په مشوره په ټاکنيز بهير کې د ټکنالوژۍ د کاروني د امکاناتو له مطالعاتي ټيم سره همکاري کوي. د ټکنالوژۍ تخنيکي مطالعاتي ټيم به لاندې برخې:

- ټاکنيز مهالوېش ته له کتو سره زماني ضرورت،
- د برېښنايي تذکرې له ټکنالوژۍ او د رأی ورکوونکيو له ډيټابيس سره د بای ميټريک نوم ثبتوني د ارتباط څرنګوالی،
- د رأيي محرميت،
- د نتيجو جمعبندي او مصؤونيت،
- عملياتي ارزونه (بشري منابع، ټريننګ، عامه پوهاوی) او نور مطالعه کوي.

کميسيون د سيالۍ په يوه آزاد بهير کې درې تنه تخنيکي کسان غوره کړل. دوی خپل کار رسماً پيل کړی چې څلورو اونيو کې به بشپړ شي.

Independent Election Commission
Paktia Kot, Jalal Abad Road
Kabul, Afghanistan
Tel: (+93) 798191014
Email: info@iec.org.af

کمیسیون مستقل انتخابات
پکتیا کوت - سرک جلال آباد
کابل - افغانستان
تلیفون: 798191014 (93+)
ایمیل: info@iec.org.af